ليکوال: لمر افغان نېټه ۰۱-۱۲-۲۰۱۰

# يو ځل بيا دانشګاه د ملي ټلويزيون په خپو کې

پرون د سي شنبي ورځ د ليندۍ د نهمي نېټي د اتو بجو د خبرونو په سرويس کي آغلي ماري مطمئن د رهين پخوانۍ عقده په ځای کړه او د خرم صاحب د وتلو وروسته يي دانشګاه د ملي ټلويزيون له څپو خپلو لاروپانو ته واورولـه.
د ملي ټلويزيون په يادو خبرونو کي د چشتيي د طريقي د خبر په ترڅ يادې شوې وياندې په ډېرې سپين سترګی هغه کړه وړه له ياده ايستلي وو چي بصير بابی ورسره مخ شو او د دانشګاه وی يې داسي وکارولو چي په ترتيب اول پوهنتون بيا دانشګاه او بيا پوهنتون بيا دانشګاه ذکر کړل. هغي زياته کړه چي پلانکی د کابل پوهنتون څخه او بيستانکی د دانشګاه هرات نه، همدا شان پلانکی د کابل پوهنتون نه او بيستانکی د دانشګاه تعليم او تربيي څخه.
د هغي دا کار کومه پېښه نه بلکي يو پلان شوی کار وؤ چي غوښتل يي په دې سره د خلکو غبرګون ځان ته معلوم کړي، دا ځل غواړي ووايي چي خير په خبرونو کي به يو ځل پوهنتون وايو او يو ځل به دانشګاه وايو. دغه ډول کارول د دوی د هغه متعصبه ټيم له خوا وړانديز شوی و چي غوښتل يي د لوړو زده کړو وزارت په قانون کي يو ځل پوهنتون او پسي بيا دانشګاه وليکي چي د نيکه مرغه د پښتنو وکيلانو د غبرګون سره مخ شو.
د نن څخه نژدې څو کاله وړاندې د بلخ ولايت څخه د ملي ټلويزيون ګزارشګر بصير بابي د خپل ريپوټ په ترڅ کي څو څو ځلي د پوهنتون په ځای دانشګاه وويل، چي په وار وار سره د وخت د وزارت د رهبری له خوا ورته ګوتنوينه وشوه مګر هغه پام ونکړ تر څو چي هغه له دنده ګوښه شو او په هېواد کي يي په ملي کچه يوه غوغا جوړه کړه.
د هېواد د اساسي قانون د شپاړسمي مادې درېيم بند په صريحه توګه توضيح کوي چي ملي ټرمينالوژي بايد وساتل شي. دا چي ځينو کسانو د دغي مادې تفسير غوښت نو ځکه د هغوی وړانديز سترې محکمي ته واستول شو او د سترې محکمې تفسير دلته زه تاسو ته هو به هو رانقل کوم:
«به دفتر محترم وزير دولت در امور پارلماني!
قابل توجه رياست محترم روابط حکومتي:
مکتوب شماره (۲۲۵۱) مؤرخ ۴/ ۷/ ۱۳۸۷ رياست محترم دارالانشاء شورای عالی ستره محکمه واصل و نګاشته اند.
(بجواب مکتوب (۲۲۸۸) ۲۱/ ۶/ ۱۳۸۷ آمريت اسناد و ارتباط شما نګاشته ميشود:
استهدائيه شماره (۵۳۳) ۱۳/ ۶/ ۱۳۸۷ رياست امور تقنينی ولسی جرګه راجع تفسير ماده (۱۶) قانون اساسی در مورد مواد (۲- ۲۹ و ۳۴) اختلاقی قانون تحصيلات عالی که از طرف وزارت محترم پارلمانی بمقام ستره محکمه راجع ګرديد بود با رعايت نظر رياست محترم تدقيق و مطالعات ستره محکمه در اجلاس مؤرخ ۲۳/ ۷/ ۱۳۸۷ شورای عالی مطرح ګرديد و در زمينه تصويب شماره (۴۵۹) به نحو اتی صادر ګرديد.
«با ملاحظه ماده دوم موسسات تحصيلات مبنی بر شرح مصطلحات مندرج مواد (۲۹) و (۳۴) و با ملاحظه قانون تحصيلات عالی مصوب ۱۳۶۸ منتشره جريده رسمی که ۲۰ سال قدامت دارد روشن ميګردد که مصطلحات چون پوهنتون- پوهنځی و مراتب شش ګانه علمی استادان يعنی: پوهيالی- پوهنيار- پوهنمل- پوهندوی- پوهنوال و پوهاند- بحيث مصطلحات علمي تسجيل ګرديده و حتی قبل از آن نيز مورد استعمال داشته است، لذا از اين ګونه اصطلاحات که هر کدام در قوانين و مقررات کشور تعريف ګرديده مصداق و يګانه مدلول بند اخير ماده (۱۶) قانون اساسی ميباشد و اګر با روش بينی امعان نظر ګردد تنها همين ګونه مصطلحاتی را که در متون قوانين ما قبول و تائيد ګرديده است. ميتوان بحيث مصطلحات علمی تشخيص نمود که مدلول بند اخير ماده (۱۶) قانون اساسی بر آن تطبيق ميګردد.
بناء شورای عالی ستره محکمه با در نظرداشت صراحت ماده مذکور شک و ترديد را در آن نديده و تاکيد می کند که تطبيق ماده (۱۶) قانون اساسی در مورد هر ګونه اصطلاحی که در يکی از قوانين و مقررات ساير ارګانها تسجيل ګرديده باشد ضرورت به تفسير ندارد.»
بنابر آن جريان بشما اخبار ګرديد تا مرجع مربوط را در جريان قرار دهند.)
احتراماً مراتب واصله نقلاً به ارتباط مکتوب (۳۷۸۴) مؤرخ ۱۹/ ۶/ ۱۳۸۷ مقام محترم بدينوسيله ارقام شد.
با احترام
قضاوتپوه مولوی محمداسماعيل «عابد»
رئيس تحريرات ستره محکمه
کاپي: برياست محترم دارالانشاء ستره محکمه»


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

نو د پورته پریکړې پر بنسټ هیڅ څوک نشي کولای د اساسي قانون ۱۶ او د لوړو زده کړو وزارت ۲۹ او ۳۴ ماده نقض کړي او هر وګړی په ځانګړې توګه دولتي چارواکي اړ دي چې په رسمي چارو کې یادې شوې مادې پلي کړي.
خو په هغه وخت کې بصیر بابی د سخت غبرګون سره مخ شو او ورسره په ولسي جرګې کې متعصبو او ملي ضد وکیلانو د وخت وزیر ښاغلی عبدالکریم خرم استیضاح کړ، خو د نیکه مرغه نوموړی وتوانېد په ښه توګه له خپل موقفه دفاع وکړي او بېرته د ولسي جرګې د ډېریو اعتبار ترلاسه کړي.
اوس به د آغلې سره څه شوي وي، پرته له شکه د وزیر ښاغلي سیدمخدوم رهین له خوا به ډېره نازول شوي وي او په خپلو کې به یې یو بل ته مبارکۍ ورکړي وي چې دا دی د زړه ارمان مو پوره شو. د بلې خوا به ښاغلی زرین انځور ورته وایي چې ډېر ښه هر څه چې کوي کوه یې خو ما له ریاسته مه لرې کوه.
د دې مخکېوینه هم شوې وه چې د رهین په راتګ به ډېر داسې څه وشي چې موږ یې تمه نه لرو خو دا چې د یوه پښتون په شتون کې چې د پښتو بیرق یې په هر ځای پورته کړی وي، د داسې څه تمه مو نه درلوده. نوموړی داسې څوک و چې موږ به د خپلو دردونو په وخت کې د مرحم په توګه یادولو چې پلانکۍ خو شته چې زموږ سره مبارزه او ملتیا وکړي. خو څه یې وکړل.
کله کله خو په ځان هم شکمن شم، او وایم که چېرې مې د دولت معاش واخیست نو زه به هم له هر څه ورته تېرشم نو ځکه خو وډار شم او وایم چې زه به هیڅکله په دولت کې دنده وانخلم. ځکه زه به محافظه کار شم، وطن به مې هېر شي، پښتو به راته ټوکې ښکاره شي او د چوکۍ لپاره به له ځانه هم ورته تېر شم.
زه پوهېږم کومه تنخوا چې ما ته دولت راکوي هغه زه کولای شم په خصوصي سکتور او غیردولتي ارګانونو کې هم ترلاسه کړم نو څه اړتیا چې خپله پښتو په چوکۍ خرڅه کړم؟ ولې خپل عزت تر پښو کړم؟ او د خپل پښتني شتون مهر په ملي ضد کړنو ووهم؟ صبا به خلک وایي چې ګیله مو له چا ده، ټول ستاسو خپل وو.
بیا خپلې پخوانۍ خبرې ته راځم چې پښتنو حکومت خو نشته چې زموږ درد درمل کړي او د دغه شان ملي ضد کړنو مخه ونیسي نو ځکه تاسو ویښ شئ او په ولسي فشار د دغه شان کړنو مخه ونیسئ. که داسې ونشول نو ډېر ژر به موږ خپل هر څه له لاسه ورکړو. هغه وخت به پښېمانۍ ته هم پاتې نشو. نور قومونه د قانون خلاف کارونه د ولسي فشار له لارې قانوني کوي خو موږ د قانون او سترې محکمې د پریکړې د پلي کولو لپاره هیڅ نه کوو. ډېر د افسوس ځای دی. هغه د پاچا خان خبره را یاده شوه چې د قامولي په هکله یې کړې وه:
«ای ورونو!
نن د قامولۍ دنیا ده. تاسې وینئ چې کوم قومونو کې قامولي او وروروليي راغلې ده نو هغه آسمان ته وختل او آباد شول.
دا موږ هم یو قوم یو، نو دا موږ ولې پاتې شو؟
دا موږ ځکه پاتې شوو چې موږ کې قامولي، ورورولي، مینه، محبت او اتفاق نشته.
نو زه تاسو له ځکه راغلی یم چې تاسو زما قام یئ خو تاسو خپله ژبه، پښتونولي، تمدن او ټول څیزونه پرېښي دي تر دې چې لنګونه مو وهلي دي.
دا هم درته وایم چې یوه مرغۍ د سیل نه جدا شي نو هغه ورکه شي.»

هیله ده چې د پاچا خان دغه خبره ومنل شي او په ریښتیا سره ویښ شو، تر څو دغه هېواد، دغه ژبه او دغه یووالی وژغورو ګنې په ډېرو ستونزو کې به لاهو شو او هر څه به له لاسه ورکړو. په پای کې به خپلو ملي چارواکو ته هغه د (اهدِنَـــا الصِّرَاطَ المُستَقِيمَ) دعا وکړم.
په درنښت
لمر افغان


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ